# د مسلمانوژنې روانه لړۍ دا ډول پای ته ورسوئ!



د افغانستان او جنوبي آسیا لپاره د ټرامپ د نوې ستراتیژۍ له اعلان وروسته د تروریستانو په نامه د ملکي وګړو، ښځو او ماشومانو د وژلو لړۍ سخت زور اخیستی. لاسپوڅی افغان حکومت په دې اړه د غبږ څه چې د ساه ایستلو له توانه لوېدلی. اکثره رسنۍ هم د ملکي وګړو له تلفاتو سره د ټرامپ د ستراتیژۍ له مخې چلند کوي او د حکومتي ادارو او ویندویانو په خوله، هر وژل شوی کس تروریست بولي. ځینې رسنۍ د دا ډول رپوټونو له خپرولو څخه ډډه کوي، یو شمېر نورې بیا لږ تر لږه که د ملکي وګړو تلفاتو ته پاملرنه کوي، خو د ستونزې د حل لپاره په ناکام ډول تجربه شوې، ناروا او غیر عملي لارې چارې وړاندیز کوي.

په داسې حال کې چې د ترور او وحشت دغه لړۍ ورځ تر بلې شدت او د جغرافیې له پلوه پراختیا مومي؛ افغان ولس له یوې خوا له وسله والو مخالفینو سره د سولې دروغجنې پروسې ته، له بلې خوا د چین، روسیې او ... په ملاتړ عنعنوي لویې جرګې او همداراز د افغان دولت له خوا پارلماني او ولسمشرۍ ټاکنو ته هیلهمن ساتل کېږي. د یادونې وړ ده چې دا هر څه د مسلمانانو لپاره د یرغلګرو کفارو د غولوونکې ستراتیژۍ بېلابېلې برخې دي، ترڅو د خپلو اوږدمهالو موخو لپاره زموږ له خاورې، وینو او احساساتو کار واخلي.

یرغلګرو په دې وروستیو کې د لړم په ۲۹مه د هلمند په موسی کلا ولسوالۍ کې پر یوه کور په هوایي برید کې لس ملکي وګړي ووژل. په دې اړه د هلمند د ولایتي شورا پخواني مرستیال ملا مجید اخوندزاده رسنیو ته د سیمې د یوه اوسېدونکي حبیب الله پر کور د هوایي برید پخلی وکړ. هغه زیاته کړې، چې په پېښه کې کور په بشپړه توګه نړېدلی، د حبیب الله په ګډون د هغه د کورنۍ لس غړي، چې مېرمنې او ماشومان هم پکې شامل دي، په شهادت رسېدلي دي. دې ته ورته د لیندۍ په لومړۍ نېټه رسنیو د وردګو ولایت په نرخ ولسوالۍ کې د پوځي عملیاتو له کبله د دولت د شلو مخالفو وسلهوالو د وژلو راپورونه خپاره کړل. حال دا چې په پېښه کې ۱۵ وسلهوال او ۱۲ تنه د یوې دیني مدرسې زده کوونکي وژل شوي وو. همداراز د لیندۍ په ۳مه د کاپیسا ولایت د نجراب ولسوالۍ په دره افغانیه سیمه کې د هوایي برید له امله پنځه ملکي وګړي، چې درې ماشومان او دوې مېرمنې پکې شاملې وې، ووژل شول. د دغه بهیر په ادامه د لیندۍ په ۴مه د ننګرهار ولایت په حصارک ولسوالۍ کې په تازه هوایي بریدونو کې د یوې ښځې او یوه ماشوم په ګډون ۴ ملکي کسان وژل شوي او پنځه نور ژوبل شوي دي. په دې اړه د حصارک اوسېدونکو رسنیو ته ویلي، چې له تېرې یوې میاشتې راهیسې په وقفه یې ډول هوایي بمبارۍ کېږي، چې ډېری قربانیان یې ملکي وګړي دي.

دا د روان صلیبي ترور او وحشت د تصویر یوه کوچنۍ برخه ده. هغه وژنې او وحشتونه چې معلومات یې له رسنیو سره نه شریک کېږي، په ځلونو له دغو شمېرو څخه ډېر دي.

په اسلامي خاورو کې د استعمارګرو د ګټو د تنظیموونکي سازمان «ملګرو ملتونو» د روان میلادي کال په لومړیو نهو میاشتو کې د هوایي بریدونو له کبله د ملکي تلفاتو اندازه د تېر کال د همدې مودې په پرتله په سلو کې ۵۲ زیاته اعلان کړې ده. د جرمني خبري اژانس وایي، چې د امریکا هوایي ځواکونو د روان میلادي کال د اکتوبر د میاشتې تر پایه پورې په افغانستان کې د وسله‌والو پر اهدافو ۳۵۵۴ بریدونه کړي دي. دغه شمېرې ښیي چې په روان میلادي کال کې د امریکایي ځواکونو له خوا د وسله‌والو پر مرکزونو د بمونو غورځول د ۲۰۱٦ میلادي کال په پرتله درې چنده زیات شوي دي. دې ته ورته د افغانستان د بشري حقونو د کمېسیون ویاند بلال صدیقي آزادي راډیو ته وویل چې د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۴۸۸۰ ولسي وګړي په افغانستان کې په جګړو کې وژل شوي، چې له دې جملې ۲۸۰ تنه په هوایي بمباریو کې وژل شوي دي.

که څه هم د صلیبي استعمارګرانو او د هغوی د لاسپوڅو په سیاسي او جګړه ییز منطق کې د مسلمانانو او درېیمې نړۍ د خلکو پوست درد نه احساسوي او وینه یې رنګ نه لري، مګر بیا هم د هغوی له عقیدوي ځواک او د هغه پر بنسټ د دوی له سیاسي نظام (راتلونکي خلافت) څخه ستراتیژیکه وېره لري. نو ځکه له دغه ستر او تر ټولو غوره امت سره په داسې وحشت، ترور او تاوتریخوالي چلند کوي.

موږ یو ځل بیا د کفارو له خوا پر اغوا شوو سیاستوالو، رسنیو او عامو وګړو غږ کوو، ترڅو د روان ترور، وحشت او تاوتریخوالي پر وړاندې راپاڅي، د اسلام پر بنسټ خپل غږ پورته کړي، د شرق او غرب له خوا وړاندیز شوو مرستو او حل‌لارو ته پرېکنده نه ووایي او د خپلې اسلامي عقیدې او فکر پر مټ د امت ویښتابه ته ملا وتړي؛ ترڅو ژر تر ژره د ټولو هغو مفکورو اصل خلکو ته بربنډ کړو چې له کفري ایډیالوژیو څخه سرچینه اخلي او د هغو پر بنسټ د رامنځته شوو نظامونو د راپرځولو هڅې پیل وکړو او پرځای یې د دویم راشده خلافت ستنې خښې کړو.

موږ باید په دې قانع او ډاډه شو چې هېڅکله زموږ ستونزې د امریکا، چین، روسیې، بوش، اوباما او ټرامپ د ستراتیژیو له مخې نه حل کیږي، ځکه هغوی زموږ عقیدوي دښمنان او له امت سره د اسلامي خاورې په ګوټ -ګوټ کې بالفعل محاربین (جګړه ماران) دي. الله سبحانه وتعالی د اسلامي امت پر وړاندې د هغوی ستراتیژي ۱۴۰۰ کاله پخوا موږ ته داسې بربنډه کړې ده. هغه سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تُطِيعُوا الَّذِينَ كَفَرُوا يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ فَتَنقَلِبُوا خَاسِرِينَ﴾** [آل‌عمران: ۱٤۹]

*اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! که د کافرانو اطاعت وکړئ، تاسو به خپل تېر حالت ته ورستانه کړي او په پایله کې به زیانمن شئ.*

دې ته ورته فرمایي:

**﴿وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا﴾** [البقرة: ۲۱۷]

*مشرکان تل له تاسو سره جګړه کوي، ترڅو مو له خپل دین څخه واړوي.*

همداراز رسول الله صلی الله علیه وسلم ته فرمایي:

**﴿وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَىٰ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم بَعْدَ الَّذِي جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ﴾** [البقرة: ۱۲۰]

*هېڅکله به یهود او نصارا له تا څخه راضي نه شي (ترڅو د هغوی غوښتنو ته پوره تسلیم نه شې) او د هغوی د (تحریف شوي) دین پیروي ونه کړې. ووایه: چې هدایت یوازې د الله سبحانه وتعالی هدایت دی! که د هغوی د هوا او هوس پیروي وکړې، وروسته له دې چې (د وحی په واسطه) ورڅخه خبر شوې، د الله سبحانه وتعالی له خوا به هېڅ سرپرست او ملاتړی ونه لرې.*

نو د پورتنيو آيتونو د حکم له مخې؛ آيا د دغه آيتونو له فهم وروسته بيا هم له امريکا او ناټو سره ستراتيژيک او امنيتي تړون کومه معنی او ارزښت لري!؟ آيا د دغو څرگندو الهي آيتونو د پاسه د کوم مرتجع، اپرچونيست، پراگماتيست او ابن الوقت گوند مصلحتپاله موقف او تحليلگر تحليل ته اړتيا شته!؟ آيا الله سبحانه وتعالی رسول الله صلی الله عليه وسلم او اصحابو کرامو ته ولې د اوسنيو مصلحتپالو - فقه الواقع (فقه الذله)- په نظر کې نه وه نيولې، چې دا ډول غوڅې لارښوونې يې ورته کړې دي!؟ آيا زموږ دغه اوسنی ذلت د پورتنيو آيتونو خلاف د بُن د پرېکړو، له کفارو سره د ناروا اړيکو او دوستۍ له امله نه دی!؟ دا د اسلامي امت په توگه پر موږ فرض ده چې د پورتنيو آيتونو له مخې له کفارو سره چلند وکړو. اسلامي امت د اسلامي فکر او حل لارو پر بنسټ را پاڅوو او بالاخره د اسلام يوازنی سياسي نظام (خلافت) د رسول الله صلی الله عليه وسلم په طريقه يو ځل بيا تاسيس کړو، ترڅو موږ له عقيدوي، سياسي او جغرافيوي پلوه سره متحد کړي او بېرته هغه ډال رامنځته کړو، چې نن مو له لاسه لوېدلی دی. هغه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يې داسې توصيفوي:

**«إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ»**

*يوازې امام (خليفه) هغه ډال دی، چې تر شا به يې جگړه کوئ او ځانونه به ورباندې ساتئ.*

نو اې مسلمانانو دا ستاسو د رب حل لاره ده.

**﴿فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلَّا الضَّلَالُ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ﴾** [يونس: ۳۲]

*له حق وروسته له گمراهۍ پرته بل څه شته!؟ نو ولې بيا (د هغه له پيروۍ) څخه مخ اړوئ!؟*

**سيف الله مستنير**

**د حزب التحرير - ولايه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رييس**